د APS ګرانه ټولنه ،

په داسې حال کې چې په افغانستان کې حالات مخ په وړاندې درومي ، زموږ فکر زموږ افغان کارکوونکو ، زده کوونکو او کورنیو ته په APS کې راګرزی . موږ هغه ویره او درد تصور کولی شو چې تاسو یې همدا اوس چې طالبانو د هیواد کنټرول ترلاسه کړی تیروی. لکه څنګه چې زموږ یو افغان کارمند وویل "داسې ښکاري چې موږ له فزیکي پلوه دلته یو خو په ذهني توګه موږ په افغانستان کې یو." موږ غواړو تاسو پوه شئ چې موږ تاسو ګورو ، موږ ستاسو پروا کوو او موږ ستاسو ملاتړ کو.

ای پی ایس د ۱۰۰ څخه زیات مهاجر زده کوونکی لری چې د افغانستان څخه دی , چې ډیر یې په څو ژبو لکه دری ، فارسی ، پښتو ، ترکی ، هندی یا اردو ژبو خبرې کوی. ستاسو بډایه ژبنی او کلتوری میراث په البوکرکی کې د پخوا څخه وړاندې په حیرانونکی کلتوری تنوع کې اضافه کړی . ځینې افغان کورنی د امریکا د مهاجرو د ویزو د ځانګړې پروسې له لارې راغلی ځکه چې دوی ژباړونکی وو او یا په بل ډول یې په افغانستان کې د امریکا د وسله والو ځواکونو مرسته کړې وه. تاسو چې کوم قربانی زغمې دا فوق العاده دی او مونږ ستاسو خدمت ستایو. ځینې نور د مهاجرو په توګه راغلی چې ډیر کلونه یې په سرحدی هیوادونو کې د مهاجیرینو په کمپونو کې تیر کړې دئ . ځینې افغان کورنی ممکن له نورو لارو راغلی وی. له دې پرته چې تاسو البوکرکی ته څنګه راغلی یاست، موتږ خوشحاله یو چې تاسو دلته په APS کې یاست.

زموږ افغان کارکوونکو ته: مهرباني وکړئ دا مه هیروئ چې APS د کارمندانو د مرستې د پروګرام له لارې سرچینې لری. تاسو باید د دې خدمتونو د کارولو هیله ولرې https://www.aps.edu/student-family-and-community-supports/employee-assistance-programs. مهربانی وکړئ خپل ځان ته پام وکړئ او پوه شئ چې که تاسو ملاتړ ته اړتیا لرئ موتږ درسره یو.

زموږ ښوونکو او کارمندانو ته چې د افغان ځوانانو سره کار کوي : مهرباني وکړئ په افغانستان کې له پیښو باخبره اوسئ او د زده کونکو احساساتي هوسایني څخه باخبر اوسئ. د زده کونکو سره لیدنه وکړئ ترڅو وګورئ چې دوی څنګه دي او د اړتیا په صورت کې دوی د مشورې خدماتو ته راجع کړئ. زموږ د مهاجرو او د نوی راتلوونکو ملاتړ برنامې ته ورشئ (https://www.aps.edu/office-of-equity-and-engagement/refugee-newcomer-supports-program) چیرې چې موږ د ملاتړ لپاره څو ژبې کارمندان لرو. د هغو موضوعاتو څخه باخبر اوسئ چې ممکن پدې حساس وخت کې زده کونکي محرک کړي.

*Tashokor*

تشکر

له تاسې څخه مننه